مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۲/۰۹/۱۱

# د اسطورو، اديانو، فيلوسوفي او پوهنې (علم)

## توپير و اړيکي څه دي؟



څه موده وړاندې په يوه سپېس کې راڅخه پوښتنه وشوه، چې د اسطورو، اديانو، فيلوسوفي او پوهنې (علم) توپير و اړيکي څه دي؟
خورا لړ و لنډ يې پر ځوابولو تم کېږم. بحث لوی او پراخ دی او دا کرښې له سمندره څو څاڅکي وګڼئ:

[دا په خورا لرغونيو زمانو پورې تړلې خبره ده، نه په کوم ځانګړي دين پورې!]

### ۱ـ اساطيري دوره ( د لرغونيو دينو پيدايښت):

خورا لرغوني بنيادمان (ښايي هوښمن هومو ساپين) له طبيعت څخه ووېرېدل، تالنده ـ برېښنا، توپان، توند باران او تياره... کله چې لمر راوخوت، رڼا شوه، د تالندې غږ ودرېد، دوی تاوده شول او وېره ورکه شوه، نو لمر يې خوښ شو او چې هره شپه به لمر ډوب شو، نو دوی به يې په وېره د بېرته راختلو شيبې شمارلې. لمرپرښتنه (تشميس) له لومړنيو ګروهو ده، چې نښې يې په قراردادي سيمبولونو کې راپاتې دي. (شمش) يا (شاماش) په لرغوني بابل کې، (نيرع) يا (اتون) يا (اتوم) په مصر کې، (سوريا) په لرغوني هيند کې، (ميترا) په آريانا و روم او (اپولون) و (هيلوس) په يونان کې د همدې لرغوني زربېلګې پاتې شوني ول.
دا مهال انسان په اساطيري دوران کې ژوند کاوه او د طبيعت له وېرې د (خدای) په لټه کې و، چې وېې ژغوري.

### ۲ـ د فکر او پوښتنو دوره:

(فيلوسوفي مرستې ته راداڼګې)

د طبيعت په اړه له هوښيار بنيادم سره پوښتنې پيدا شوې، ولې رڼا او تودوخه بنه ده؟

لمر له کومه کېږي؟

تالانده څه ده؟

مور څوک يو؟


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړيکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

او ولي يو؟

**۳ـ لومړنۍ پوهنه:**
(په طبیعت کې د تجربي تکرار)

لومړنی علمي (پوهنیز) زړی هغه دی، چي انسان دوه یا ډېر ځله یو عمل (د یوې ارادي - شعوري پروسي په بشپړولو) تکرار کړ او سره ورته یا یو شان پایله یي واخیسته.

یو مهال بنیادم اور ولیده، وحشت یي وکړ. په ځنګه کي اور لګېدلی و او یوه هوسۍ یي سوزولي وه، بنیادم د هوسۍ د پخي غوښي خوړلو ته وهڅېده، خوند یي زیات و. بل ځلي یي دوه سپیني بکرۍ سره وجنګولې، پخپله یي اور ولګاوه، ښکار یي پرې پوخ کړ، بیا یي خوند وکړ. بنیادم د اور او پخولو علم تجربه کړ (علم یعني دا)

د مصر اوسېدونکي بنیادمان له نیل څخه پازاب ول، ډېر ځله به چي دغه لوی سیند ځپاند شو، نو دوی به یي وېرول . دوی فکر وکړ: آیا نیل خدای دی؟

نیل ته یي زارۍ وکړې، چي بیا یي په تکلیف نه کړي. (نیل د خدای په نقش کي)

نیل څه دی؟

ولي کله مست او کله ارام بهیږي؟

نیل له موږ څه غواړي؟ او موږ ولي له نیل سره ژوند کوو؟

(له نیل سره فیلوسوفیک چلند)

ځینو پر دي فکر پیل کړ، چي نیل تل ځپاند نه وي، بلکي کله ارام او کله ځپاند شي. د سپوږمۍ له بدر و هلال کېدو سره یي د نیل مد و جذر بیا بیا وکوت. په پایله کي یي (وخت) وپېژاند. (میاشت) یي وپېژاندله. میاشت به یا دېرش، یا نهه ویشت یا اته ویشت ورځي وه، شمار یي زده کړ (حساب رامنځته شو) او د کالهینداري و نجوم پوهني لومړني څرکونه یي وپېژندل. (له پوهني سره د نیل تړاو)

روسته یي چي له نیل څخه د کروندو لپاره اوبه بېلولې، نو د هندسي او فیزیک په لومړنیو قوانینو هم پوه شول.

چینایانو به ډانګ پر زمکه نیغ ودراوه او لیدل یي چي د ډانګ سیوری د لمر رڼا ته څرخي، وخت یي نور هم دقیق وویشه او ساعت یي وپېژاند.

د لمر، نور، اور، برېښنا، اینرژۍ، چټکتیا، شمېر...

کیسه تر کومپیوټر پورې راورسېده.

فیلوسوفي د بنیادم په ذهن کي پوښتني لا پیچلي کړې، هغو پوښتنو چي د طبیعي تجربو پر بنسټ ځواب موندلای شو، په علم (پوهنه بدلېدې) او بې ځوابه پوښتني لا هم د دین او میتا فیزیک په ادرس کي راټولېدلې.

له کومه راغلو؟

ولي راغلو؟

چېرته ځو؟

پوښتنو لا هم د بنیادم ذهن بوخت ساتلی.

خو علم خپله لاره وهي. بېځوابه پوښتني له فیلوسوفي سره سروکار لري. د پوهني پرمختیا او پراختیا لاهم د دغو بېپایه پوښتنو یوه کوښنی برخه ځواب کړې، خو پوښتني لاشته او ورځ تر بلي زیاتیږي.
کاینات د انسان تر شعوري پراختیا ډېر پراخ او لوی دي.

خو علم د طبیعت هغه پېژندنه، موندنه او تجربه ده، چي د انسان ژوند ته ګټور وي او د طبیعت له قهر څخه د ویرې پرځای، هغه د ځان په ګټه وکارولای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ